# دافغانې سرې میاشتې ۱۴۴۶ ه ق کال د تیرو شپږو میاشتو راپور

افغاني سره میاشت له تېرو څه باندې ۹۰ کلونو راهیسې د خپلو بشرپالو پروګرامونو له لارې د ټول هېواد په کچه د طبیعي او غیر طبیعي پېښو زیانمنو، بې سرپرسته کورنیو، یتیمانو، معلولینو، معیوبینو او اړمنو کورنیو ته له تبعیض او تعصب پرته بشرپال خدمتونه وړاندې کوي.

دا خیریه ملي ټولنه د یوه مرستندوی بنسټ په توګه ټول فعالیتونه د اوه ګونو اصولو په رڼا کې پر مخ وړي، چې یادو بنسټیزو اصولو کې بشرپالنه، ناپېیلتوب، ناپلوي، خپلواکي، د خپلې خوښې خدمتونه، یووالی او نړیوالتوب شامل دي، چې هر اصل یې ځانګړی تعریف او خاص شرایط لري.

افغاني سره میاشت د اړمنو او بې وزله هېوادوالو د لاسنیوي او له هغوی د ملاتړ په موخه په بېلابېلو برخو کې بشرپال خدمات ترسره کوي،

## د حوادث ریاست کړنې:

افغاني سرې میاشتې په تېرو شپږو میاشتو کې له اړمنو او پېښځپلو سره چې (۱۳۶۶۹۷) تنه کېږي؛ د خوراکي، غیر خوراکي او د نغدو پیسو مرسته کړې ده،

چې د ( ۲۱۳۶۷ ) تنو سره د خوراکي، ( ۱۳۰۴۰) تنو سره د غیر خوراکي، ( ۱۳۸۵۷) تنو سره د خوراکي او غیر خوراکي، (۱۱۳) تنو سره دخوراکي او نغدو پیسو او له (۸۸۳۰) تنو سره نغدي مرسته شوې ده.

نغدي مرسته ټولټال (۳۸۹۷۳۰۰۰۰) افغانی،

همدارنګه (۳۳۸,۰۳۹) ټنه خوراکي توکي چې (۳۳۸۰۳۹) کیلو کېږي، مرسته شوې،

چې (۲۳۳۳۰۰) کیلو اوړه، ( ۲۱۴۹۵) کیلو غوړي، ( ۶۵۸۰) کیلو لوبیا، ( ۴۴۱۰۵) وریژې، ( ۱۲۰۰۰) کیلو بوره، ( ۳۷۰۰) کیلو مالګه، ( ۲۴۱۵) کیلو چای، ( ۲۷۰۰) کیلو مکروني، (۱۱۹۰) کیلو روب، ( ۶۱۰۰) کیلو بیسکوټ او (۳۴۵۴) کیلو خرما شامله وه.

په غیر خوراکي توکو کې (۷۵) خېمې، (۸۳۴) ترپالونه، (۴۷۱) د پخلنځي سیټونه، (۱۸۹۵) د اوبو بوشکې، (۱۱۰۱۷) کمپلې، (۱۳۰۰)چکی د کالو او لاس مینځلو صابون او (۴۵۴) مرادانه پټوګان شامل وو.

## خدمات صحي ریاست کړنې:

افغاني سرې میاشتې په تېرو شپږو میاشتو کې د ټول هېواد په کچه دیوه مرکزي روغتون، کابل کې یو جامع کمپلکس کندهار، ۴۶ ثابت کلینیکونو، ۳۶ فرعي کلینیکونو، ۶۷ ګرځنده روغتیایي عاجل ټیمونو، او ۴۵ د کتلوي معافیت او اولیه کومکونو روغتیایي کمپونو په مټ (۲۰۲۰۸۲۰) تنو ته وړیا روغتیایي خدمات ترسره کړي.

چې له دې جملې څخه (۱۸۶۲۳۹۱) تنه مراجعین، (۱۳۱۰) تنه داخله ناروغان، (۱۰۳۷) د سوري زړه ناروغان داخلي شفاخانو ته معرفي شوي، (۸۶۶۱۶) تنو ناروغانو ته اولیه کومکونه، (۴۹۷۶۳) تنو ته په رواني برخه کې په کابل مرستون، هلمند، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې ۱۶ ګرځنده روغتیایي ټیمونو خدمات وړاندې شوي، (۵۳۹۹ ) تنو رواني ناروغانو ته د هېواد په شپږو ولایتونو کابل، مزار شریف، کندهار، کندز، هرات او ننګرهار دارالمجانینو کې خدمات او ( ۱۴۳۰۴) تنه د سترګو مریضانو ته روغتیایي خدمات وړاندې شوي دي.

## دمرستونونو ریاست کړنې:

د ۱۴۴۶ سپوږمیز کال په لومړیو شپږو ماشتو کې د مرستونونو له لارې ترسره شوي خدمات

افغاني سرې میاشتې تېرو شپږو میاشتو کې د قطر هېواد د سرې میاشتې په مرسته د هېواد په اوه ولایتونو ( کابل، کندهار، هلمند، فراه، فاریاب، بدخشان او بلخ) کې ۱۱۷۲ بې سرپرسته کونډو او همدا ډول ۱۵۰ تنه ځوانانو ته راتلونکي کې د ځان بساینې په موخه د خیاطۍ، ګلدوزۍ، غالۍ او ګیلم اوبدلو برخه کې زده کړې ورکړې او هغوی ته یې د ترلاسه کړې کسب اړوند وسایل هم وېشلي دي.

همدا ډول دې خیریه ملي ټولنې د ډنمارک د سره صلیب په مرسته په کابل، ننګرهار او هرات ولایتونو کې (۵۰۰) اړمنو او بې سرپرسته کونډو ته د امرار معیشت پروژې پلې کړې دي.

ددې ترڅنګ ۳۴ داخلي مشمولینو ته اعاشه چمتو شوې او ۱۱۵ کورنیو ته، چې د غړو شمېر یې ۶۱۶ تنو ته رسېږي، بدل اعاشه ورکړل شوې، دا راز په یاده موده کې د (۱۲۴۶) بېرونیو مشمولینو کورنیو بانکي حسابونو ته (۱۹۴۸۵۵۰۲) افغانۍ لېږدول شوي دي، څو د ژوند لومړنۍ اړتیاوې پرې پوره کړي.

سربېره پر دې افغاني سره میاشت د خپلو مرستونونو له لارې د هغو هېوادوالو ملاتړ او لاسنیوی هم کوي، چې د بېوسۍ او مجبورۍ له امله سوال کولو ته اړ شوي دي. دې خیریه ملي ټولنې د افغانستان اسلامي امارت د عالي قدر امیر المؤمنین حفظه الله د ۳۳۴ ګڼه حکم، نېټه ۱۴۴۳/۷/۲۳ او همدا ډول د افغاني سرې میاشتې د مقام د ۵۳۹ ګڼه حکم، چې په ۱۴۴۴/۱/۳۰ نېټه صادر شوی وو، د ټول هېواد په کچه د سوالګرو راټولول او د هغوی کورنۍ تشخیص کول پیل کړل، چې تر دې دمه په ټولیز ډول (۱۲۲۰۱۲) کورنۍ د ټاکل شوي کمېسیون له لوري ثبت او بایومتریک شوې دي، چې تر دقیقې ارزونې

وروسته ( ۲۹۷۱ ) کورنۍ، چې د غړو شمېر يې (۲۰۷۹۷) ته رسېږي، مستحقې پېژندل شوي او په مياشتنۍ توګه نغدي مرسته ورسره شوې ده.

د يادونې وړ ده، چې په تېرو شپږو مياشتو کې ( ۱۴۴۶/۱/۳۰ څخه تر ۱۴۴۶/۶/۳۰) د افغاني سرې مياشتې له لوري (۶۲۷) سوالګرو کورنيو سره، چې د غړو شمېر يې (۳۴۱۳) کېږي، په فزيکې توګه (۴۰۹۸۱۳۲) افغانۍ نغدي مرسته شوې او راتلونکي کې به هم له يادو تثبيت شويو کورنيو سره د مرستو دا لړۍ دوام ومومي.

د افغاني سرې مياشتې په مرستونونو کې تر پوښښ لاندې نيول شوې کورنۍ:

افغاني سره مياشت د ټول هېواد په کچه لکه څرنګه چې وړاندې يې يادونه وشوه، اته مرستونونه لري، دا مهال د پکتيا او پروان له مرستونونو پرته په نورو ټولو مرستونونو کې داخلي مشمولين شتون لري، چې په کابل کې ۱۴۷، ننګرهار کې ۱۷۲، کندهار کې ۱۳۸، بلخ کې ۹۸، او کندز ولايت کې ۲۳ تنه مشمولينو ته د ژوند ټولي اسانتياوې په پام کې نيول شوي دي. دا راز د يادو مرستونونو له لوري د بېرونيو مشمولينو په اډانه کې ټولټال ۲۳۴۴ کورنۍ، چې د غړو شمېر يې ۱۲۳۹۶ ته رسېږي، تر پوښښ لاندې نيول.

د يادونې وړ ده، هغه مشمولين، چې اعاشه ورته په پام کې نيول شوې د ژوند تر پايه په مرستونونو کې ساتل کېږي او هغه کورنۍ، چې بدل اعاشه ورکول کېږي، د مرستونو له کړنلارې سره سم له شپږ مياشتو څخه تر درې کلونو پورې په مرستون کې ساتل کېږي.

ددې ترڅنګ هغه کورنۍ، چې له مرستون څخه بهر په خپلو کورونو کې تر پوښښ لاندې نيول شوي دي، تر يو کال پورې يې ملاتړ او لاسنيوی کېږي او له هغه وروسته د هغوی وضعيت ته په کتو تصميم نيول کېږي

## د ځوانانو او رضاکارانو د رياست کړنې:

د افغاني سرې مياشتې ټولنې د ځونانو او رضاکارانو رياست په تېرو شپږو مياشتو کې د خپلو ۳۶ ښونيزو مرکزونو له لارې ۵۵۵۰۰ هغو ځوانانو ته چې په شخصي ښونيزو مرکزوونو د زده کړو په موخه د فيس ورکولو توان نه درلود د زده کړو زمينه برابره کړې ده.

دا راز دې رياست په ياده موده، د هېواد په ټولو برخو کې ځوانانو او رضاکارانو ته د ۴ زرو په شمېر يونيفورم ( واسکت او خولۍ) چمتو کړي دي. تر څنګ يې د انلاين سيستم له لارې په خپل دېټا بېس کې ۱۵۴ تنه نوي غړي او د هېواد په ۲۱ ولايتونو کې ۲۲۷۴ نوي رضاکاران راجلب او هغوی ته د رضاکارۍ کارتونه وېشلي دي.

سربېره پرې دي، د ځوانانو او رضاکارانو رياست د هېواد په ۹ ولايتونو ( لغمان، نورستان، پکتيا، کندز، سمنګان، فراره، ارزګان او باميانو) کې ۴۰۰ رضاکارانو ته د خوندي لاسري او رضاکارانو د مديريت اړوند ورکشاپونه ورکړي دي. تر څنګ يې په ختيځ سيمه ييز زون کې د پېښو او لومړنيو روغتيايي مرستو رضاکارانو د همغږۍ ناستې دايرې کړي دي. همدا ډول د هېواد په ۱۳ ولايتونو ( کابل، باميان، کاپيسا، هرات، بلخ، بدخشان، لوګر، خوست، هلمند، کندهار، لغمان، ننګرهار او غزنی) درې مياشتنۍ غونډې دايرې کړې دي.

ددې ترڅنګ د DRC اړوند ۵ غونډې چې ۳ يې په آنلاين او ۲ يې په فزيکي ډول وې، ترسره کړې دي. همدا ډول ۱۳۰ تنه غړو د اقليمي بدلونونو او ماينونو د ګواښونو په اړه د عامه پوهاوي ورکولو برخه کې ښوونيز ورکشاپونه ترسره شوي.

د هېواد په کچه ۲۸۴۱ سيمه ييزو ځوانانو او عامو وګړو ته د سرې مياشتې او نړيوال سره صليب د پېژندنې، پروګرامونو او بشرپاله فعاليتونو برخه کې ۵۳ د پوهاوي پروګرامونه پلي شوي دي.

همدا ډول د افغاني سرې مياشتې د ځوانانو او رضاکارانو د رياست په مرسته ددې څانګې ۷۹۳ رضاکارانو د ځانګړې اونۍ په اوږدو کې د ټکټونو په پلورلو کې برخه اخيستې ده.

دخبر او راپور مدير

غلام حسن اباسين